سرلوخ مرادزی

۲۰۲۱ / ۰۸ / ۱۰

# پښتانه

د اغیار په نزد محقر دي پښتانه
خو اسیا کې د زړه سر دي پښتانه
که حقپال یي د اسیا ژوندی زړه بولی
په دي فخر مفتخر دي پښتانه
دا ادعا که د دښمن نه وي د چا ده؟
چې وایي، بدو نه بدتر دي پښتانه
دا لوی عیب یي دی قبول، کاشکي چې نه وای
له ازله پخپلسر دي پښتانه
ساده زړي دي په ژوند او په چلند کې
که دی سمی که د غر دي پښتانه
د یوه پلار، د یوه نیکه اولاد دی
که د لر دي، که د بر دي پښتانه
د مذهب په نوم له مال و سره تېر دي
خو مذهب نه ناخبر دي پښتانه
پوهه نه لري، مذهب کې افراطي دي
تمدن سره ټکر دي پښتانه
د ملا په لاس دوکه شول په پیړیو
قرباني د زوړ ممبر دي پښتانه
کاشکي پوهي ته یي مخه شي په ژوند کې
د مذهب سخت زیر اثر دي پښتانه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ